**مطبوعاتي اعلاميه**

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼې پرانيسته

(ژباړه)

د حزب التحريرـ مرکزي مطبوعاتي دفتر خوښ دی چې په فرانسوي ژبه د وېبپاڼې د پرانيستې خبر ورکوي؛ دغه وېبپاڼه به د يوه پورټال په توګه د فرانسويژبو کسانو لپاره د نبوت پر منهج راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره د هڅو منځپانګې تر پوښښ لاندې راولي.

دا نېک ګام د حزب التحرير او د دغه حزب د غړو د نه ستړي کېدونکو هڅو يوه پايله ده، چې له خلکو سره د اړيکو د ډېرولو لپاره پورته کېږي، ترڅو هر ممکن ځای ته د اسلامي امت تر پيروانو پورې ورسيږي.

د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس پروژه په کلک هوډ او پوره ځيرکتيا سره مخ پر وړاندې روانه ده.

د خلافت سقوط او هغه وياړ چې له دې سره له اسلامي امت څخه واخيستل شو؛ د ټولو لپاره دردوونکی دی. له دې سره پر اسلام او د اسلام د حکومتولۍ پر نظام د سم پوهېدلو ارزښت د اسلامي امت د ځوانانو ترمنځ پر يوه پام وړ او جدي موضوع بدلېدونکی دی.

دلته بايد د رسنيو او مطبوعاتو رول درک شي، چې د اسلام پيغام د يوې حياتي موضوع په توګه وړاندې کوي؛ د اسلامي نظام ځانګړتياوې او د خلافت د تاسيس معنی رانغاړي او دا چې د دغه نظام لپاره د نبوت له منهج څخه څنګه ګټه اخيستل کېږي.

له همدې امله موږ د مطبوعاتو له ټولو مخلصو متخصصينو څخه غواړو چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بيا تاسيس په لټه کې شي؛ په ځانګړې توګه د فرانسوي ژبو مطبوعاتو له متخصصينو غواړو چې د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼه کې پر خپرو شوو منځپانګو او موادو بياکتنه وکړي. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې دوی ته د دوی په غوره چارو کې انګېزه ورکړي او له دې څخه هغه څه ترلاسه کړي چې د خلافت د بيا تاسيس لپاره کار بشپړوي.

موږ د الله سبحانه وتعالی په فضل د حزب التحرير  مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼه پيل کړه او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ ته د هغه څه لارښوونه وکړي چې هغه سبحانه وتعالی پرې راضي کېږي.
الله سبحانه  وتعالی فرمايي:

**﴿وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيداً عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيداً عَلَى هَؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَاناً لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ﴾**

**ژباړه:** *«[اې محمد صلی الله علیه وسلم، دوی له هغې ورځې څخه خبر کړه] چې کله موږ په هر امت کې په خپله د هغه له منځه یو شاهد راپاڅوو چې پر هغوی شاهدي ووايي؛ پر دغو خلکو د شاهدۍ ویلو لپاره موږ تا راولو. (دا د هماغه شاهدۍ تیاری دی) چې موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په هڅه ښکاره شي د هر شي څرګندوونکی دی. د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی چې د امر منلو ته یې غاړه یې ایښې ده.»*
[نحل: ۸۹]

د ويبپاڼې لېنک: https://www.hizb-ut-tahrir.info/fr/

**انجنير صلاح الدين عضاضه**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۴ هـ.ق، د شعبان ۱۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د مارچ ۱۰مه**

**د صدور ګڼه:۳۱/ ۱۴۴۴**